بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

متحدالمآل نمبر: ۱۳

تاريخ: ۱٦/ ربيع الاول/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۹/ميزان/ ۱٤۰۲ هش

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: په تاريخ ۱٤٤٥/۲/۱۲هق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی په مشرۍ د ستري محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب، د ستري محکمې محترم قضائي معاون صاحب، د جنوب لويديځ زون د تميز عالي رياست رئيس او د ستري محکمې محترم قضائي معاون صاحب، د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست محترم رئيس صاحب، د کندهار ولايت د شهري محکمې د امنيت عامه ديوان محترم رئيس صاحب، د کورنيو چارو وزارت د مخدره توکو محترم معين صاحب، د ننګرهار ولايت محترم والي صاحب، د بدخشان ولايت محترم والي صاحب، د کندهار ولايت محترم والي صاحب، د هلمند ولايت محترم والي صاحب او د فراه ولايت محترم والي صاحب په ګډون مجلس دائر شو چې په ياد مجلس کې د ترياکو او چرسو د کرهنې او د ترياکو او چرسو د خرڅوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي، همدارنګه د نورو نشه ئي موادو د توليدوونکي، خرڅوونکي، انتقالوونکي او استعمالوونکي لپاره جزاګاني تاکل شوي وي چې د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا په ماده وار شکل ترتيب او د ستري محکمې د مقام د دفتر رياست د مکتوب نمبر (٥٤بر۲۹) مورخ ۱٤٤٥/۲/۲۰هق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندي شوي، په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۱۳۹۷) مورخ ۱٤٤٥/۳/۱٥هق مصادف ۱٤۰۲/۷/۸هش په اساس داسي هدايت وفرمايلو:

((وکتل سو:

وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: د نشه يي موادو متعلق جزاګانو کړنلاره چي پر (۱۱) يوولسو موضوعاتو او (۳۲) دوه ديرش مادو مشتمله ده، منظور ده.))

بناءً د نشه يي موادو متعلق جزاګانو کړنلاره چي د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائيد شوي، د ستري محکمې د محترم مقام د شفاهي هدايت په اساس، ددې متحدالمآل مل په (٦) ورقوکې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو ټول محاکم د مواد مخدر په موضوعاتو کې د يادې کړنلارې موافق اجرآت تر سره کړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"
د ستري محکمې
د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشاء

۱٦ ربيع الاول ۱٤٤٥ هق

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه ، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af